**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱ – ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama.unmissions.org

**رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)**

**علیم صدیق، د یوناما ویاند،**

**داکتر نیلاب مبارز د یوناما د ویاند د دفتر ښځه،**

*کابل- دوشنبه د جولای د میاشتی شلمه نیټه، کال ۲۰۰۹*

## یوناما د راتلونکو ټول ټاکنو په لړ کې

نن د ولسمشریزو او د ولایتي شوراګانو د ټاکنو د کمپاین له پیل څخه یوه میاشت پوره شوه.
د چهارشنبې په ورځ د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په راتلونکې میاشت کې د ولسمشریزو او د ولایتي شوراګانو د ټاکنو د هغو تیاریو هرکلی وکړ، چې د افغانانو له خوا رهبري شوي، او د "آزادو، ناپېیلو، رڼو، باور وړ، خوندي او شاملو" ټول ټاکنو پر ارزښت یې ټینګار وکړ.
د امنیت شورا همدارنګه پر افغان وګړو غږ وکړ، "چې په دغه تاریخي فرصت کې خپله رایه وکاروي او خپل غږونه نورو ته ورسوي."
د افغان حکومت د روانو هلو ځلو د ستاېلو ترڅنګ، شورا د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ایساف) په مرسته د چارواکو اضافه هلې ځلې وهڅولې، چې د ټاکنیزې مودې پرمهال امنیت تامین کړي.
په عین وخت کې د افغانستان د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ملاتړ او مرستې لپاره ستر لوجستکي عملیات روان دي.
په میلیونونو د ټاکنو پاڼې د اونۍ په ترڅ کې په څلورو الوتنو کې کابل ته رارسیدلي دي.
د ټاکنو په اړه د معلوماتو لپاره د مرستې وړیا ۱۹۰ شمیره، له ۳۰ څخه ۶۰ ته خپل د اپریټرانو یا کارکوونکو شمیر لوړ کړی او دوی په یوه اونۍ کې د ۶۰۰۰۰ اړیکو د ترلاسه کولو د ظرفیت په درلودو سره، اوس مهال په اونۍ کې له ۳۰۰۰۰ څخه تر ۴۰۰۰۰ تیلفوني اړیکي ترلاسه کوي.
له ۱۶۰۰ څخه زیات ټولنپوهان له ۱۱ پانیز فلیپ چارټ سره، په ټول هیواد کې رایه ورکوونکو ته د ټاکنو د پروسې په اړه تفصیلي معلومات ورکوي.
د ټاکنو خپلواک کمیسیون همدارنګه د معلوماتي تلویزیونونو او راډیوګانو د اعلانونو او خبرتیاوو له لارې د خپرونو یو ستر کمپاین پیل کړی.
د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون خپله رسیدنه ټول هیواد ته غځوي او د رسنیو کمیسیون د افغانستان د تلویزیونونو او راډیو سټیشنونو د رسنیو پوښښ څاري.

## د ټاکنو د خپلواک کمیسیون- د رسنیو باوري کول

هغه رسنۍ چې غواړي په افغان حکومتي ادارو کې ټاکنې تر پوښښ لاندې راولي، د مثال په ډول د ټاکنو په مرکزونو کې، رسنۍ اړ دي څو دا یقیني کړي، چې هغوي د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا اعتباري شوي دی، ترڅو د دې جوګه شي چې دغه ځایونو ته لاسرسی ومومی.
مهرباني وکړئ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون فورمې بشپړې کړئ، نوموړې فورمې د څنګ میز څخه هم د لاس رسي وړ دي او بېرته یې نوموړی کمیسیون ته د اګست له ۶ څخه مخکې وسپارئ.

## د افغانی بیرته راستنیدونکو شمېر د ۵۰۰۰۰ څخه واوښت.

سږ کال د پاکستان څخه هیواد ته د بیرته راستنیدونکو شمېره له ۵۰۰۰۰ څخه واوښت. د پاکستان څخه د بیرته راتګ د عملیاتو پروسه چې د اپریل د میاشتی د لومړی نیټی څخه له سره پیل شو، دپاکستان څخه ۴۸۰۰۰ ثبت شوی مهاجرین د یو ان اچ سی آر تر پروګرام لاندي بیرته راستانه شویدی. له ایران څخه یوازی ۲۵۰۰ تنه بیرته راغلی دي.

د سږ کال د بیرته راستندونکو زیاتره شمېره یا کابو ۶۰ فیصده له پېښاور څخه بیرته هیواد راستانه شویدی.

موږ د بیرته راستنیدونکو په اړه ځینی شمېری لرو چې پر میز باندی شته. د دغه بیرته راستنیدونکو له جملی څخه ۳۲ فیصده خپلو ختیزو سیمو ته ننګرهار ته تللی دي او ویل کیږي چې ۳۰ فیصده یې مرکزی سیمو او په عمومی ډول د کابل ولایت ته راغلی دي.

هغه ثبت شوی افغانان چې بیرته افغانستان ته راځی په اوسط ډول د هر سړی پر سر ۱۰۰ امریکایی ډالره اخلي چې د خپل ترانسپورت او په افغانستان کې د بیرته میشت لپاره ولګوي.

د یو ان اچ سی آر د خپلی خوښی بیرته راستنیدنه پروسه له پېښاور څخه، د روانی عملیاتو له امله بند او د خپلی خوښی بیرته راستنیدنه مرکز د پېښاور په حیات آباد کې تړلی دی.

## د نړیوال بانک نوي پروګرام

د نړیوال مالی سهامی شرکت چې د نړیوال بانک د ډلی یو غړی دی، اعلان وکړ چې افغانستان به د نړیوال مالی پروګرام د ۳ بلیونو ډالرو څخه ګټمن شی چې په نړیواله سطحه د نویو پیدا شویو مارکیټونو د سوداګرې ضمانت او ملاتړ وکړي، او د افغانستان او نورو هیوادونو تر منځ د سوداګری د مالونو لیږد رالیږد او اړونده خدمتونو ته ارتقا او د پایښت لرونکي مخ په وده اقتصاد ملاتړ وکړی.

د نړیوال سوداګر مالی پروګرام د ضمانتونو د برابرولو له لارې چې په نوي پیدا شویو مارکیټونو کې د ځایی بانکونو او سوداګری راکړی ورکړي د پیسو ورکولو خطر تر پوښښ لاندي نیسی، آسانتیا برابروي. دا په مارکیټونو کې د سوداګری کریډیټونو د راکړې ورکړې دوام پیاوړي کوي. د اوسنی مالی بحران د غبرګون لپاره، د تیرو یوعشاریه پنځه بلیونه ډالرو سربیره، یو نیم بلیونه اضافی امریکایی ډالر ورزیات کړي چې ټول ۳ بلیونو امریکایی ډالرو ته لوړ شوی دی.

د دغه پروګرام له پیل څخه چې د ۲۰۰۵ کال د سپتمبر په میاشت کې پیل شوی دی ټول ټال ۳،۲ بلیونه امریکایی ډالر د سوداګری د ضمانت لپاره صادر شوی دی چې ۲۶۰۰ د سوداګری معاملی ملاتړ وکړي.

## د سوداګری او صنایعو د وزارت او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د صنعت د پرمختیا د سازمان د تړون لاسلیک

د جولای په ۱۶ نېټه د پنجشنبې په ورځ د هیوادني پروګرام تر سند (سی پي ډي) لاندې د سوداګرۍ او صنایعو د وزارت او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د صنعت د پرمختیا د سازمان تر منځ یو درې کلن تړون لاسلیک شو، د ملګرو ملتونو د صنعت د پرمختیا د سازمان (یونیډو)، د افغان حکومت د غوښتنې پر بنسټ به له دولت سره مرسته وکړي، چې د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژۍ لومړیتوبونو ته ځواب ورکړي.
د ملګرو ملتونو د صنعت د پرمختیا سازمان د صنعتي حکومت، د سوداګرۍ د ظرفیت جوړوني، د خصوصي سکټور پرمختیا، کرنیز صنعت، انرژي او د اقلیم په بدلون کې پوهه او معلومات سره یوځای کوي، او د چاپیرال اداره او منجمنت به د ځینو پروژو ملاتړ وکړي او د UNDAF درې تګلارې به تقویه کړي:
۱) د ملي ادارو ملاتړ
۲) د خصوصي تشبث ترفیع او ترویج
۳) بنسټیز خدمتونه او پاک چاپیریال
دا به د فقر دا را ټیټولو لپاره ګټور او د رقابتی د صادرولو وړ خوراکی صنایعو د ودی سره د روستائی انکشاف لپاره مرسته موی.
د دغه موافقتنامی سره تقریبا اته ویشت ملیون دالرپه ارزښت د پروژو د پلی کولو لپاره به مرسته و شی.

## د یوناما راډیو پر آی ټیون پاڼه خپریږي

په تاسو کې هغه کسان چې د آی ټیون سره آشنا يي، ښایی تاستو ته په زړه پوري وي چې پوه شئ چې یوناما خپل د راډیویی پروګرامونو لپاره د آی ټیون ځانګړي صفحه پیل کړی ده.

د ۴۵ دقیقو لنډ انګریزی وړیا ځانګړی پروګرام د اګست په ۲۰ د راتلونکې ولایتی شوراګانو او ولسمشریزو ټاکنو په هکله، تولید شوی دی.

د دغه پروګرام په محتوا کې د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون، د ټولټاکنو د شکایتونو د کمیسیون، د رسنیو د کمیسیون، د ملګرو ملتونو د ټولټاکنو د ملاتړ پروژه، ژورنالستانو، رایه ورکونکو او نورو سره مرکې شاملې وي.

د آی ټیون په دغه پاڼه کې د یوناما د راډیو د پښتو، دری او انګریزی ژبو تازه معلومات هم شامل دي.
د یوناما اوونیزه راډیویی خپرونه د ننني افغانستان په نامه په پښتو او دری ژبو چې د افغانستان په ملی راډیو تلویزیون کې تولیدیږي، هم د ښکته کولو (داونلوډ) لپاره د لاسرسی وړ دی.

هغه اوریدونکي چې په خپل کمپیوتر کې یې آی ټیون نصب کړی وي کولای شي چې د یوناما د راډیو پلټنه وکړي او په وړیا ډول ګډونکوونکی شی چې وکولای شی د افغانستان په هکله غړیز تازه پروګرامونه واوري.

## لومړني غره ختونکي افغانان د افغانستان د غره تر ټولو لوړې څوکې ته ورسیدل

د لومړی ځل لپاره افغان غره ختونکي د افغانستان تر ټولو لوړ د غره څوکې ته ورسیدل.
د یکشنبې په ورځ د ۲۰۰۹ کال د جولای په ۱۹ دوه افغان غره ختونکي، هر یو امرالدین او ملنګ د بدخشان ولایت په واخان ولسوالی کې د هندوکش د غره ۷۴۹۲ متره لوړې نوشاق څوکې ته ورسیدل.
نوموړي هغه دوه لومړني غره ختونکي افغانان دي، چې د افغانستان د غره تر ټولو لوړې څوکې ته ختلي.
د مسافرت دغې ډلې د جولای د میاشتې په دوهمه د ۶۵ نورو لیږدونکو سره د قاضي کلی د سفر په نیت پریښود.
له خپل اصلی کمپ څخه د درې ورځنې سفر څخه وروسته، هغوي غره ته په ختلو پیل وکړ.
غره ختونکو د غره په لوړه څوکه د افغانستان بیرغ ورپاوه. نوموړې غره ختونکی له بنې روغتیا برخمن دي.

## د عمومی منشی ځانګړی استازی د سه شنبې په ورځ د بهرنیو چارو د وزیرانو په کنفرانس کې وینا کوي

د عمومی منشی ځانګړی استازی کای آیده به سبا د سه شنبه په ورځ د جولای په ۲۱ نیټه د بهرنیو وزیرانو په غونډه کې وینا وکړي.
هغه به د ټول ټاکنو په بهیر کې د بشری حقونو پر اهمیت او نورو اړوندو مسلو لکه بشری حقونه، انتقالی عدالت او په دغو ټاکنو کې د ښځو د برخی اخیستنی په اړه وغږیږی. کیدای شی تاسی په دی هکله له مخکې د وزارت څخه بلنلیک تر لاسه کړي وي.غونډه سبا په ۹ بجو د بهرنیو چارو وزارت د تشریفاتو په سالون کې پیل کیږي.

## د سوالونو او ځوابونو برخه

**د طلوع تلویزیون:** سربیره پر دی چې د اروپایی اتحادیی د ناظرانو هیت رارسیدلی دی او همدارنګه نور ملی او بین المللی ناظرین هم شته، چې تاسی د ملی ناظرینو شمېر کابو دوه سوه زره بیان کړ. خو لا تر اوسه هم دا اندیښنه شته چې په هغو سیمو کې چې امن نشته دغه ناظرین هلته نه شی تلای او مسله دا ده چې که دغه ناظرین دغو سیمو ته ولاړ نه شی نو به په روانو ټولټاکنوکی شفافیت نه وي. یوناما به هم یو له دغو ناظرینو څخه وي، زه غواړم په دی اړه د یوناما نظر وپوښتم؟

**علیم صدیق:** د راتلونکی ټولټاکنو لپاره امنیت یو حتمی امر دی. رایه ورکوونکی باید ډاډه وی تر څو وکولای شی پرته لا ګواښ او ویری څخه او د امن په فضا کې خپله رایه ورکړي.

د عمومی منشی ځانګړی استازی د دی مسلی اهمیت ټولو خواوو ته لکه د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون، حکومت، امنیتی موسسات، نړیوال او داخلی ناظرینو په ګډون،چې په ټولټاکنو کې دخیل دي برسیره کړی دی.

د امنیتی پلان جوړولو ګډه ډله جوړه شوی ده چې د افغان امنیتی ځواکونو، د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون، آیساف، په افغانستان کې د ګډو قواوو د دوره ای قومندانی او ملګری ملتونو ترمنځ امنیتی پلانونه موثر کړي.

اوس دغه امنیتی ډله امنیتی مسلو، د ټولټاکنو د حساسو موادو توزیع او د ولایتی عملیاتو د قوماندی د مرکزونو جوړولو ته رسیدګی کوي چې موخه یې په ځانګړی ډول د سږ کال د ټاکنو لپاره د امن تامینول دی.

د ولایتی عملیاتو د قوماندې دغه مرکزونه په راتلونکې اوونې کې د رایه ورکولو مرکزونو او موقعیت وارزوي تر څو ډاډ حاصل شی چې په دغه مرکزونو کې ټول امنیتی او تحفظی ګامونه اخیستل شوی دي.

موږ د دغی دندی سختی ته په کمه سترګه نه ګورو، خو ملګري ملتونه او ټول هغه خواوی چي په دغه پروسه کي شامل دي، دا واضح کوو چي په راتلونکي اوونیو کي دغه کار کلیدی اولویت لري، او په بدل کي د افغان وګړو څخه غواړو چي دوي اجازه ورنکړي چي نور خلک د دوي افغانی ټولنی ته تشدد راولي او په دغه تاریخی رایه ورکولو کي د دوي فرصت غلا کړي.

**د افغانستان ټایمز:** په داسي حال کي چي عملیات د هلمند په ولایت کي پیل شوی دي څو هغه ولسوالی تر لاسه شي چي د دولت په کنترول کي نه دي، پرون د کورنیو چارو وزارت اعلان وکړ چي نا امني ۱۴ سلنه زیاته شوې ده. آیا تاسو فکر نه کوئ چي د نا امنی زیاتوالی به د ټولټاکنو پر پروسي اغیزه وکړي؟ په داسي حال کي چي د افغانستان  په یوه برخه کي هلي ځلي کیږي- په جنوب کي څو ځیني هغه ولسوالی تر لاسه شي چي د طالبانو په کنترول کي دي، نا امني د هیواد په بله برخه کي لکه کندز او یا پکتیا کي زیاتیږي. زه یوازې غواړم چي پوه شم چي دغه نا امني به د ټولټاکنو پروسه اغیزمنه نه کړي؟

**علیم صدیق:** اجازه راکړئ دا تاسو ته بیا در په یاد کړم چي په پیل کي ما وویل چي امنیت اساسي ننګونه ده چي کیدلای شي موږ ورسره د سږ کال د ټاکنو د ریښتنولی او امنیت د باوري کولو په برخه کي مخامخ شو. لکه چي په پیل کي موږ وویل چي دا تر ټولو ستره ننګونه ده چي موږ ورسره مخ کیدلای شو.

کیدلای شي د نړئ په کچه ډیر لږ هیوادونه داسي وي چي هغه د داسي ننګونو سره مخ وي چي افغانستان یې همدا اوس په اوسني امنیتي چاپیریال کي د ټاکنو د سرته رسولو لپاره ګوري. خو راځئ چي تیرو وروستیو څو میاشتو ته وګورو. موږ ولیدل چي ۴،۵ میلیونه افغان رایه ورکوونکو د دې هیواد په ۳۴ ولایتونو کي د رایو کارتونه واخیستل- دا نوی رای ورکوونکی کسان او هغوي دي چي د رایو د ثبت کارت یې نوی کړی دی. څلورنیم میلیونه افغانان راووتل چي د رایي کارت پرته د کومي ستري پیښي څخه واخلي.

د نوماندئ په پړاو کي  ۱۰۰۰ افغانانو د سږ کال په ټاکنو کي د ګډون لپاره ځانونه نوماند کړي دی. د سږ کال په ټاکنو کي د شلو سلني څخه زیاتو ښځو د ولایتي شوراګانو لپاره ځانونه نوماند کړل چي د تیرو ټاکنو په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. او دا کار هم پرته د کومي ستري پیښي ترسره شو.

لکه چي موږ وویل ۱۷ میلیونه د رایو پاڼي د هیواد په کچه، هر ولایت ته په امن او خوندي حالت سره استول شوي دي. دا ټول هڅوونکي نښي دي چي موږ د رایي ورکوونې ورځي ته بیایي. خو هیڅوک نه شي کولای چي امنیتي ننګوني ته لږ اهمیت ورکړي او ما ته اجازه راکړئ څو تاسو ته ډاډ درکړم چي د نړیوالي ټولني له خوا به په دې اړوند کمي او نیمګړتیا نه وي څو په راتلونکو اونیو کي  امنیتي مسلو اهمیت ته پام وشي څو چي هر افغان  د خپل قانوني حق څخه برخمن شي او رای ورکړي چي دا فرصت ورته د رایي اچووني په ورځ شته.

باید د یو شي په اړه وضاحت ولرو: د ټاکنو بریاوې او ناکامي په نړیواله ټولنه او یا د ټاکنو په خپلواک کمیسیون پوري تړاو نه لري. موږ دې ته اړتیا لرو چي هر افغان باید خپله دنده ترسره کړي، را ووځي او د اګست په ۲۰ نیټه رایه ورکړي.

**سبا تلویزیون:** زما پوښتنه د پاکستان د پخوانی ولسمشر پرویز مشرف د وینا په هکله ده. دا چي د پاکستان او یا د افغانستان دولت دا اقدام چي د طالبانو سره جګړه پرمخ بوځي د مسلي حل نه ده. هغه وایي چي دا مسله د مذاکراتو د لارې حل کیدلای شي. د افغانستان دولت دا په پخوا کي ویلي دي چي مسله باید د مذاکراتو له لارې حل شي. زه غواړم پوه شم چي آیا دا مخالفین دي چي قوي دي او نه غواړي دغه مذاکري ومني، او یا دا هم د پاکستان دولت دی چي غواړي د اپوزیسیون په ملاتړ سره دغه پروسه ناکامه کړي؟

**نیلاب مبارز:** د اپوزیسیون سره د خبرو او مذاکرو په اړه زموږ دریځ روښانه دی: موږ د هر ډول حل ملاتړ کوو- په هره لار چي وي او موږ  د سولي پر لور بوځي. هغه څه چي په پخلاینه پوری تړلي دی: که چیری د افغانستان دولت د یوناما ملاتړ وغواړي، نو یوناما به دې ته چمتو وی چي ددغي پروسي ملاتړ ولري، د پخلاینې او مصالحي لپاره شرط دا دی چي هغوي باید اساسي قانون او د افغانستان د خلکو لاس ته راوړني ومني او په نړیوالو ژمنو پابند وي- دا یې شرطونه دي.

**تمدن تلویزیون:** د ولسمشریزو ټاکنو لپاره یوه شمیر نوماندان د تېریو او ټګیو اندېښنې لري چې وايي پخپله د ټاکنو د کمیسیون له خوا ترسره کيږي. دوی وايي که چیري د دې مخنیوی و نه شي دوی به له ټاکنو سره بایکاټ وکړي او د کابل کوڅو ته به مظاهرې وباسي. دوی په عمده ډول د رایو د کارتونو په باب اندیښمن دي چې له هیواد څخه بهر چاپ شوی وي. آیا د ټاکنو د کمیسیون له خوا په رښتیا په دې باب ټګي شوې ده؟

**علیم صدیق:** اجازه راکړئ هغه راپور ته اشاره وکړم چې موږ دوه اونی پخوا خپور کړي دی. دغه راپور د یوناما او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا خپور شوی دي چې د ټاکنود قانون تطبیق یې تر څارنې لاندې نیولی دی او د افغانستان د خلکو دغه توانایي یې څېړلې ده چې د اساسي قانون له حق څخه استفاده وکړي او په ټاکنو کې برخه واخلي. راپور دوه اونی پخوا خپور شوی دی او زموږ په ویب پاڼه کې شته. د دې راپور په سرخط کې راغلی دي چې تر اوسه پورې د ټاکنو قانون د افغانستان د اساسي قانون او د قانون د حاکمیت د اصل په تعقیب سره تطبیق شوی دي. البته راپور دا هم څرګنده کړې ده چې موږ داسې موارد او قضیې موندلي چې له مخې یې د قانون مراعات نه دی شوی او ددې خطر موجود وو چې د ټاکنو خوندیتوب ته زیان ورسيږي. مګر دا هم مهمه خبره ده چې د راپور له مخې دغه قضیې ددې وړ نه دي چې د ټاکنو د حوضو ټول اعتبار تر سوال لاندې راولي. تر ټولو مهمه خبره دا ده او موږ د افغانستان له خلکو څخه دا غوښتنه کوو چې دغه ډول اندېښنې د ټاکنو د شکایتونو او پخپله د ټاکنو کمیسیونونو ته ورسوي څو داسې اقدامونه ترسره شي چې د دې کال ټاکنې شفافې او څرګندې وي. موږ به په راتلونکو اونیو کې دې ته ادامه ورکړو چې د ټاکنو بهیر له نږدې څخه وګورو او دا یقیني کړو چې افغانان د ټاکنو په څرګندوالی او مشروعیت باندې باوري شي.

تاسې دا خبره یاده کړه چې د ټاکنو کارتونه له هیواد څخه بهر چاپ شوي دي. تاسې به په یاد وی چې د رایې کارتونه د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو د ټاکنو لپاره هم په بهر کې چاپ شوي وو. په دې باب هیڅ داسې خبره نشته چې پټه وساتله شي، ځکه ددې لپاره چې د دې مخنیوی وشي چې د ټاکنو کارتونه په داخل د افغانستان کې دوباره په ناقانونه ډول چاپ نه شي. د ټاکنو په کارتونو باندې ځینې نښانې شته چې له امنیتي پلوه ډیر اهمیت لري او زه هیله من یم چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون به تاسې ته په دې هکله معلومات درکړي. دا یو له هغو اقداماتو څخه دي چې د ټاکنو کمیسیون د ټاکنو په ورځ د شفافیت د تضمین په باب نیسي.

**د آزادي غږ راډیو:** زما پوښتنه د امریکا د ولسمشر د امر په باب ده چې په ۲۰۰۱ کې د طالبانو د عمومي وژنې پېښې تحقیق کړي. موږ غواړو وپوهیږو چې ملګر ي ملتونه دغه ډول تحقیقات تقویه کوي او که نه؟ دویمه پوښتنه دا ده چې داسې ویل کیږي چې ملګري ملتونو په هغه وخت کې نه غوښتل چې تحقیقات وشي، ملګري ملتونه په دې باب څه وايي؟

**نیلاب مبارز:** یوناما په تکرار سره دا خبره کړې ده او ددې غوښتنه یې کړې ده چې د تیرو وختونو د جرمونو په باره کې د (نه یوازې انفرادي قضیې) تحقیقات وشي او دغه غوښتنه د انتقالي عدالت د سولې، پخلاینې او عدالت د عمل د پلان په نامه سره سم ده. موږ د امریکا د حکومت د دې پلان څخه هرکلي کوو چې غواړي ددې حادثې په باب پلټنې وکړي. خاص استازي، کای ایده په دې وروستیو وختونو کې دا خبره کړې ده "که موږ په دې کې پاتې راشو چې د تیرو جرمونو سره حساب کتاب وکړو موږ به په راتلونکي کې له جدي ستونزو سره مخامخ شو."

د یوناما صلاحیت او ماموریت دا دی چې له افغان چارواکو سره په دې هڅو کې مرسته وکړي او د دې ماموریت د یوې برخې په څیر یوناما په ۲۰۰۲ کې د بشري حقونو لپاره د ډاکټرانو (پی ایچ آر) غیر حکومتي موسسې لپاره څو سفرونه برابر کړل څو په دې ساحو کې د عدلي طب څېړنې وکړي. له هغه وروسته موږ له حکومت څخه غوښتنه کړې ده چې په راتلونکي کې ددې ساحو ساتنه وکړي او د پلټنو په باب موږ د خپلو مرستو ورانديز کړی دی.

**د آزادي غږ راډیو:** دا پوښتنه د ولسمشریزو ټاکنو د نامتو نوماندانو د مالي سرچینو په هکله د شکایتونو په اړه ده چې تر اوسه لا هم نه ده روښانه شوې، همدارنګه شکایتونه موجود دي چې کرزی د خپل کمپاین د کولو لپاره حکومتي سرچینې کاروي؟ آیا تاسو په دې هکله کوم معلومات لرئ؟ څنګه کیدای شي دغه دوه فکتورونه د ټول ټاکنو ټوله پروسه متاثره کړي.

**علیم صدیق:** د پوښتنې څخه مو مننه. زموږ موقف په دې هکله ډير ساده دی. موږ باور لرو چې د افغانستان د ټول ټاکنو قانون لکه څنګه چې د پارلمان او د افغانستان د خلکو له خوا ورباندې موافقه شوې، تعقیب شي، هغو نوماندانو چې لا تر اوسه د ټول ټاکنو کمیسیون چارواکو ته خپلې مالي سرچینې نه دی ښودلی، هغوي دی ژر تر ژره دا کار وکړي. دا یوازې د دې لپاره د پام وړ نه دی چې د هیواد قانون ته درناوي وشی بلکه د دې لپاره هم مهمه ده چې رای ورکوونکی د هغو نوماندانو په مالی شامنظر هم باور وکړي چا چې ځانونه د سرکال د ټول ټاکنو لپاره نومولی. راځئ چې دا په یاد ولرو چې دا تاسو رای ورکوونکی یاست چې په دې هکله تاثیر پرېښودلی شي. که تاسو چیرې د هیڅ نوماند د مالي شامنظر په هکله قانع نه یاست، او یا د هر نوماند د شامنظر په هکله اندیښنه لري، نو هغوي ته رایه مه ورکوئ. پریږدئ چې افغانان پخپله نهایي قضاوت وکړي.

ختم

--------------------------------------------------------------